# د ښوونځي قلف

## د افغاني نجلی بې‌غږه چیغه




Ketabton.com

لیکواله:
فوزیه ارزو

ketabton.com - The Digital Library



# د ښوونځي قلف

( د افغاني نجلی بې غږه چیغه )

لیکواله: فوزیه ارزو

ketabton.com - The Digital Library



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

ketabton.com - The Digital Library



# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د ښوونځي قلف
(د افغاني نجلی بې غږه چیغه)
لیکواله: فوزیه ارزو
لیکوالی شماره: +923373519886
کمپوز: آریان
آن لاین خپرندوی: آریان پښتو کتابتون

بشپړ حقوق خوندي دي

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

دا کتاب د افغانستان ټولو هغو نجونو ته ډالۍ، کوم چې د
علم، پوهې او روښانه راتلونکي په هیله د بندو دروازو تر
شا هم خپل خوبونه ژوندي ساتي.
ستاسو اوښکې، ستاسو صبر او ستاسو هیله به یوه ورځ د
دې وطن د رڼا سبب شي.
— فوزیه ارزو

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

"د نجونو ښوونځي تر امر ثاني پورې تړل شوي."

نه، دا یوازې د خبرونو جمله نه وه. دا د اوسپنې د قلف هغه غږ و چې زما د ښوونځي او پوهنتون پر دروازه ولګېد. هغه سهار زما په ټولو خوبونو قلف واچاوه او کیلي یې د "امر ثاني" په نوم جېب ته واچوله.

زما نوم افغانه دی. زه هغه افغانه نجلۍ یم چې د قلف شاته پاتې شوه.

دا کتاب د یوې نجلۍ نه، بلکې د یوه نسل فریاد دی. دا د هغو نجونو غږ دی چې ژوندۍ وې، خو غږ یې څوک نه اورېدل.

ketabton.com - The Digital Library



# فهرست

سریزه
هغه ورځې چې اسمان، ځمکه او نړی زموږ وه
هغه سهار چې هر څه بدل شول
د قلف شاته ژوند
بندې کړکۍ او اوږدې شپې
د نورو نجونو نړی، زما بند زندان
د هویت له لاسه ورکول
د افغانې ښځې درد
د نړی چوپتیا
هیله لا ژوندۍ ده
د نه ماتېدونکي قلم ژمنه
پرانیستی لیک چارواکو ته
پایله

ketabton.com - The Digital Library



.هغهدخبرونو  غږ مې لا تر اوسه په غوږو کې دی*
(دنجونو ښوونځی تر امر ثاني پوري وتړل شوې)
نه، دا دخبرونو او د کتاب د تړلو غږ نه و. دا د اوسپنې د
قلف غږ و چې زما د ښوونځی یا پوهنتون په دروازه
ولګېد. هغه سهار یې زما په ټولو خوبونو قلف واچاوه او
.کیلي یې د "امر ثاني پورې" په نوم په جېب کې واچوله
زما نوم افغانه  دی. زه هغه افغانۍ نجلۍ یم چې د قلف
.شاته پاتې شوه
پرون ما د سپین چپن خوبونه لیدل. نن زه د تورې چادرۍ
سېوري ته ناسته یم. د دې دوو ورځو تر منځ یوازې د لمر
د پرېوتو فاصله وه، خو زما لپاره دا د یوې پېړۍ اوږد سفر
.و چې زما د قلم کاروان پکې لوټ شو

.

زه دا کتاب د دې لپاره نه لیکم چې تاسو وژاړم. زه دا
کتاب د دې لپاره لیکم چې تاریخ شاهد شي. چې سبا که چا
وپوښتل: "کله چې د افغانو نجونو په مکتبونو قلفونه لګېدل،
هغوی چیرې وې؟" نو دا کتاب ځواب شي: "مونږ دلته
".وې. ژوندۍ وې. او چیغې مو وهلې، خو بې غږه
دا زما بې غږه چیغه ده. دا د یوې نجلۍ نه، د یو نسل فریاد
.دی
.دوی زما په مکتب قلف واچاوه

ketabton.com - The Digital Library



.زه مې په قلم د هغه د خلاصولو هڅه کوم
.دا کتاب قلف دی او کیلي هم
.دا درد دی او درمل هم
.دا زما بې غږه چیغه ده
.واورئ یې
:هغه ورځې چې اسمان ځمکه اونړی زموږ وه---
زما سهار د مور د "لورې پاڅه، مکتب ته دې ناوخته کېږي" په غږ پیل کېدو. دا غږ به د نړۍ تر ټولو خوږه .ازان و
زما د څپلۍ غږ به په کوڅه کې د ازادۍ سرود و. ما به د . کتابونو بکس په شا تړلی وو، او د بکس دروندوالی به ماته .داسې خوند راکاوه لکه یوې ملکې ته چې تاج په سر وي
په لار به چې د خپلو ملګرو سره مخ کېدلم، زموږ خندا به د کابل د سړو سهارونو یخني ماتوله. موږ به د ریاضي د مسالې نه نیولې تر د تېرې شپې د ترکی سریال پورې هر .څه سره شریکول
د مکتب دروازه ماته د جنت دروازه وه. کله به چې د . چوکیدار کاکا په موسکا سره دروازه را خلاصوله، نو داسې به مې احساسوله لکه ټوله نړۍ چې راته وایي:
."راشه، ستا ځای دلته دی"

ketabton.com - The Digital Library



د ټولګي د چوکیو او مېزونو بوی اوس هم زما په دماغو . کې دی. هغه بوی د لرګي، د کاغذ او د خوبونو ګډ بوی و زموږ استاده به چې د "بسم الله" په ویلو درس شروع کړ، . نو ټول ټولګی به غلی شو. د هغې د ټباشیر غږ په تخته باندې زموږ د راتلونکي نقشه کښله.

زه به د کړکۍ سره ناسته وم. کله کله به مې له درسه زړه وتنبېدو او بهر به مې ونو ته وکتل. خو حتی د هغه ونو لیدل هم درس و، ځکه استادې راته ویلې وو: "علم یوازې په کتاب کې نه دی، ټوله طبیعت یو لوی کتاب دی".

د تفریح زنګ چې به ووهل شو، ټول مکتب به په یو شور بدل شو. موږ به منډې وهلې، رسۍ به مو ټوپ کړې، او د یوې مومپلي په سر به مو شخړه کوله. هغه شخړه هم خوږه وه، ځکه موږ ازادې وې.

پرون "ازادي" یو داسې شی و چې موږ یې په اړه فکر . هم نه کاوه، لکه ماهی چې د اوبو په اړه فکر نه کوي. موږ ازادې وو چې بازار ته لاړې شو، کتاب واخلو، له ملګرې سره سودا واخلو .

زما د پلار غرور وم، د مور دعا وم، د ورور ملګرې وم. زما وجود د کور لپاره "بار" نه، بلکې "ویاړ" و.

د پرون او نن تر منځ هغه یو قدم چې ټوله ژوند یې راته . بدل کړ

ketabton.com - The Digital Library



پرون او نن تر منځ یوازې د یوې شپې فاصله وه. ما .
وشپیله چې سبا به درس لرم، او سهار پاڅېدم چې راته ویل
کیږي: "سبا نشته". زما ټول سباګان په یوه شپه کې را نه
.غلا شول

هغه سهار هم اسمان شین و. زه درس لپاره تیاره وم.
کتابونه مې په غېږ کې نیولي وو. مور مې دعا راکړه. بیا د
راډیو غږ شو... داسې غږ چې د مرګ د پرښتې غږ ترې
نرم و. ویل یې: "د ټولو نجونو ښوونځي او پوهنتونونه د
."امر ثاني پورې تړل شوي دي

زما کتابونه له غېږې ولوېدل. د فزیک کتاب داسې په
ځمکه ولګېد لکه زما د هډوکو غږ چې وي. مور مې چوپه
شوه. پلار مې مخ واړاوه. او زه؟ زه داسې ودرېدم لکه
مجسمه. نه مې اوښکې راغلې، نه مې چیغه کړه. ځکه د
.ځینو دردونو لپاره اوښکې ډېرې سپکې وي

زه د ښوونځي دروازې ته ورسېدم. تل به چوکیدار کاکا
راته موسکی شو، نن یې سترګې پټې کړې. ویل یې:
."لورې، امر دی. نه شم کولای"

ما د اوسپنې سرې دروازې ته لاس وروړ. پرون دا
دروازه زما راتلونکي ته خلاصېده، نن زما په مخ وتړل
شوه. د هغې د بندېدو "ټک" غږ مې لا تر اوسه په غوږ.و

ketabton.com - The Digital Library



کې دی. هغه د یوې تابوت د مېخ غږ و. زما د خوبونو تابوت.

پرون او نن تر منځ یوازې لږ فاصله وه، خو زما لپاره دا د یوې پېړۍ اوږد سفر و چې زما د خوبونو کاروان پکې لوټ شو.

پرون ما د سبا لپاره پلان جوړاوه، نن سبا زما لپاره پلان جوړوي: چې څنګه دې د څلورو دېوالو تر منځ پټه خوله پاتې شم.

هغه ورځ چې د تقویم پاڼه واړوله، زما د ژوند کتاب هم ورسره واوښت. د "زده کوونکې" عنوان رانه واخیستل شو او د "کورنۍ" ټاپه راپورې ووهل شوه.

پرون د مکتب زنګ زما د زړه ټکان و، نن د دیوال د ساعت ټک ټک زما د صبر ازموینه ده. دواړه غږونه دي، خو یو یې ژوند ته بلنه ورکوله او بل یې مرګ ته شمېرنه کوي.

پرون به زما خندا د ټولګي په دېوالونو لګېدله او انعکاس به یې کاوه، نن مې خندا د خپلې کوټې په بالښت کې خفه کېږي او څوک یې نه اوري.

پخوا به استادې راته ویل: "پوښتنه وکړه!"، نن ټولنه راته وایي: "پوښتنه مه کوه!". زما او د علم تر منځ همدا د یوې جملې توپیر، د ځمکې او اسمان هومره واټن شو.

ketabton.com - The Digital Library



.هروخت  به مې ګوتې د قلم په رنګ تورې وې، نن مې ګوتې د پيازو په رنګ ژېړې دي. قلم مې د پخلنځي چاړه سره بدل شو، او زما ټولې مقالې اوس د ډوډۍ په دستورو .کې خلاصه شوي دي

-

پرون به مې چې کتاب په غېږ کې نيوه، د راتلونکي بوی . به ترې راته، نن چې يې په غېږ کې نيسم، د خاورو بوی .ترې راځي، لکه زما چې خاورو ته سپارلی وي
هروخت به مې چې سترګې پټولې، د سپين چپن خوب به مې ليدو، نن چې سترګې پټوم، د تورې چادرۍ نه پرته بل .څه نه وينم. زما خوبونه هم د حجاب قانون منلی دی
کله کله به مې د کړکۍ نه بهر د الوتکو تېرېدو ته کتل او دعا به مې کوله چې يوه ورځ به زه هم پيلوټه شم، نن د کړکۍ نه بهر د الوتکو تېرېدو ته ګورم او دعا کوم چې .بمبار نه وي
پرون زما سترګې د سوالونو نه ډکې وې، نن زما سترګې د اوښکو نه ډکې دي. سوالونه مې په ستوني کې بند پاتې .شول او اوښکې شول
-پرون "زه" وم: يوه نجلۍ چې نوم يې درلود، ارمان يې درلود، او تذکيره يې دښوونځي يا  پوهنتون په محصلينو

ketabton.com - The Digital Library



کې ثبت وه. نن "مونږ" یو: یوه بې نومه ډله چې د "کورنۍ ښځې" په نوم یادیږو.

- پرون به مې چې په هنداره کې ځان لیده، یوه ډاکټره، یوه معلمه، یوه انجنیره به راته ښکارېده. نن چې په هنداره کې ګورم، یوازې یوه وېرېدلې نجلۍ وینم چې له خپل سیوري نه هم بېرېږي.

< پرون زما بکس د کتابونو له درنوالي نه زما اوږه زخمي کوله، او زه پرې ویاړم.

< نن زما اوږه د خالي بکس د سپکوالي نه زما زړه زخمي کوي، او زه پرې ژاړم.

< پرون زما قدمونه د مکتب په لور بې صبره وو، لکه د تږي قدمونه چې د چینې په لور وي.

< نن زما قدمونه د کوټې د څلورو کونجونو تر منځ زنداني دي، لکه د یوې مرغۍ چې وزرونه یې ورمات کړل شي او قفس ورته پرانیستی پرېښودل شي.

--

له "هغې ورځې" نه را په دې خوا، زما ورځې نوم نه لري. شنبه، یکشنبه، ټولې یوه ده. ټولې د "صبر" په نوم ده.

ketabton.com - The Digital Library



د ښوونځي نه بغیر سهار د اذان سره نه، بلکې د یوې درنې چوپتیا سره راخېژي. لمر د کړکۍ نه راننوځي، ځکه پردې پرې راکش شوې دي.

زما کتابونه لا هم په الماری کې ولاړ دي، خو اوس د بندیانو په څېر. زه ورته ګورم، هغوی راته ګوري، او زموږ تر منځ د وېرې یوه پېړه دېوال ولاړ دی.

زما نړۍ اوس د خپلې کوټې د کړکۍ په اندازه شوه. له دې کړکۍ نه زه اسمان وینم، خو الوتکې نه وینم. زه ونې وینم، خو د ونو لاندې ناستې نجونې چې کتابونه لولي، نه وینم.

پرون زه "څوک" وم: ارزو ، د لسم ټولګي شاګرده. نن زه "د حاجي صیب لور" یم. زما له "زه" نه "د چا" جوړه شوې ده.

د ښوونځي نه بغیر، انسان نه پاتې کېږي، یوازې یو وجود پاتې کېږي چې ساه اخلي.

د ښوونځي نه بغیر ژوند داسې دی لکه یو کتاب چې ټولې پاڼې یې سپینې کړل شي او قلم درنه واخیستل شي. دا یوازې د "تعلیم" نشتوالی نه دی، دا د ساه اخیستلو د حق نه محرومول دي.

د ښوونځي نه بغیر ژوند کې سهار د اذان سره نه، بلکې د یوې درنې چوپتیا سره راخېژي. پرون به د مور غږ و: "لورې پاڅه، ناوخته دې شوه!"، هغه غږ زما د ورځې

ketabton.com - The Digital Library



لومړی شعر و. نن سهار چوپ دی. لمر د کړکۍ نه
راننوځي، ځکه پردې پرې راکش شوې دي. د ساعت ټک
ټک اورم، خو دا ټک ټک د ژوند نه، بلکې د یوه بندي د
ورځو د شمېرلو غږ دی.
کاشکي بیا مې هغه ببړه وای چې په تلوار کې به مې د
کتابونو بکس تړلو، چې نیم چای به مې په منډه څښلو، چې
د کوڅې خاورې به زما د قدمونو سره ملګرې وې. نن زما
قدمونه د کور د فرش نه ها خوا نه ځي. فرش سړه دی،
لکه زما ارمانونه.
ورځ د شپې نه اوږده وي
د ښوونځي نه بغیر ورځ ۲۴ ساعته نه، بلکې ۲۴ کاله وي.
وخت داسې درېږي لکه د یوې مړې اوبه. پرون به د زنګ
په غږ پوهېدلم چې ۴۵ دقیقې تېرې شوې، نن د دیوال
سیورې ته ګورم چې ورو ورو خوزېږي.
ساعتونه په کارونو وېشم: جارو کوم، لوښي مینځم،
ډوډۍ پخوم. خو دا کارونه زما دماغ نه تغذیه کوي، یوازې
لاسونه مې ستړي کوي. زما دماغ، چې پرون به د فلسفې
او الجبر په سوالونو کې لګیا و، نن د دې سوال سره
جنګېږي: "نن ماښام څه پخه کړم؟". زما د فکر وزرې
راکښل شوي دي، او زه په ځمکه پاتې یم.

ketabton.com - The Digital Library



د ماسپښنین لمر چې په حویلۍ کې خپور شي، زه د دیوال سیوري ته کښېنم. د ګاونډ د هلکانو د مکتب نه د راتلو غږ اورم. د هغوی د بکسونو شور، د هغوی خندا، د هغوی بې غمه قدمونه. زما په زړه کې داسې یو څه وشلېږي چې نوم یې نه لرم. شاید هغه د "حسد" او "ارمان" ګډ درد وي.

زما نړۍ اوس د خپلې کوټې د کړکۍ په اندازه شوه. له دې کړکۍ نه زه اسمان وینم، خو الوتکې نه وینم. زه ونې وینم، خو د ونو لاندې ناستې نجونې چې کتابونه لولي، نه وینم. زه باران وینم، خو د باران نه وروسته د ملګرو سره په کوڅه کې ګرځېدل نه شم کولای.

کړکۍ ماته دواړه نعمت او عذاب ده. نعمت ځکه چې له دې لارې رڼا راځي، عذاب ځکه چې له دې لارې هغه ازادي وینم چې له ما نه اخیستل شوې. کله کله د شپې د سپوږمۍ ته ګورم او ورته وایم: "ته چې دومره لیرې یې، ازاده یې. زه چې ستا لاندې یم، بندیوانه یم. دا څومره عجیبه عدالت دی؟"

شپې هغه اوږدې پوښتنې تر ټولو ظالمې وي. کله چې ټول ویده شي، زما دماغ راویښ شي. زما د بالښت لاندې هغه کتاب پروت دی چې نیمه لوستی مې پاتې شو. د هغه د پاڼو نه د نیوټن د قانون بوی نه، بلکې د اوښکو مالګین بوی راځي.

ketabton.com - The Digital Library



:

---

ـکله چې زه د ټلويزيون پر پرده د نورو هيوادونو نجونې وينم چې سپين کميس او تور پطلون يې اغوستی، کتابونه يې په غېږ کې نيولي او د پوهنتون په لويو دروازو ننوځي، نو زما د زړه په دېوال داسې ټکېږي لکه چا چې زما د خپل خوب پر مخ د اوسپنې قلف ټينګ کړی وي.

ـهغوی چې په لابراتوار کې تجربه کوي، زه دلته د پخلنځي په ګوټ کې د اوړو خميره کوم؛ هغوی چې د اسمان د ستورو حساب کوي، زه دلته د کور د ديوالونو د خښتو حساب کوم، او دا فاصله د دوو نړيو نه، بلکې د يوې قلف او يوې کيلي فاصله ده چې کيلي يې چا په جېب کې اچولې او نوم يې "امر ثاني" ايښی دی.

زه حيرانه يم چې ايا د کابل اسمان د نيويارک له اسمان نه فرق لري، چې هلته نجونې ډاکترانې کېږي او دلته يې قلمونه ماتوې؟ ايا زموږ دماغونه د خټو دي او د هغوی د سرو زرو، چې زموږ لپاره تعليم حرام او د هغوی لپاره فرض شو؟

هر ه ورځ چې تيرېږي ، زما د زړه په منځ کې داسې . درز پيدا کېږي لکه چې زما د عمر يوه بله ورځ هم له کتاب پرته ضايع شوه، او زه پوهېږم چې دا ورځې به سبا

ketabton.com - The Digital Library



بیرته نه راځي، دا عمر به سبا ځوان نه کېږي، او دا قلف به سبا په خپله نه خلاصېږي.
کله چې یې زما په مخ د مکتب دروازه وتړله، ما فکر . کاوه چې یوازې یوه دروازه بنده شوه، خو اوس پوهېږم چې دوی زما د راتلونکي ټولې کړکۍ بندې کړې، او اوس زه د دې تورې کوټې په منځ کې ناسته یم او د نورو د کړکیو نه چې رڼا راځي، هماغه رڼا ته ګورم او سوځم.
-دوی وایي صبر وکړه، خو زه وایم صبر د هغه چا کار دی چې وخت ولري؛ زما خو ځواني د دې قلف شاته زړېږي، زما خوبونه د دې دېوالونو شاته خاورې کېږي، او که سبا دا قلف خلاص هم شي، نو دا خاورې شوي خوبونه به څوک را ژوندي کړي؟
-زما او د هغې نجلۍ تر منځ چې په لندن کې طب لولي، یوازې د څو زره کیلومتره واټن نه دی، بلکې د یوې "اجازې" واټن دی؛ هغې ته پلار وایي "ولوله لورې"، ما ته پلار وایي "کېنه لورې"، او دا یو "ولوله" او "کېنه" زما ټول ژوند ټېروتنه کړ.

---

له ځانه پوښتنه کوم: "ایا زما ګناه څه وه؟ ایا د لوستلو ارمان کول جرم دی؟ که جرم دی، نو ولې خدای په خپل لومړي وحی کې وویل: اقرا؟". ځواب نشته. یوازې د چت

ketabton.com - The Digital Library



پر مخ د مارمولک غږ دی چې زما د زړه په څېر په دیوال خوزېږي، خو هیڅ ځای ته نه رسېږي.

کله چې زه د انټرنیټ پر مخ د یوې ایرانۍ یا ترکۍ نجلۍ د فراغت عکس وینم چې توره چپنه یې په هوا کې غورځولې او خندا یې داسې کوله لکه نړۍ یې فتح کړې وي، نو زما ګوتې په خپله د فراغت په هغه توره چپنه پسې ګرځي چې ما لا په دوکان کې هم نه ده لیدلې، او زړه مې راته وایي چې ستا د بریا اسمان خو چا د یو قلف په زور درنه پټ کړ.

هغوی چې د خپل راتلونکي نقشه په قلم کاږي، زه دلته د خپل تېر شوي وخت حساب په اوښکو کوم؛ د هغوی شپې د کتاب په مطالعه تېرېږي او زما شپې د کور د کړکیو په شمېرلو، ځکه زه داسې زندانۍ یم چې زندان یې خپل کور دی او ساتونکی یې خپل تقدیر.

زه وایم که علم د نارینه او ښځې دواړو فرض دی، نو زما دا فرض چا را نه واخیست؟ که قلم زموږ د پیغمبر لومړنۍ خبره وه، نو زما د قلم غږ ولې د توپک د شپېلۍ په غږ پټ کړ؟ ایا زما وجود دومره خطرناک دی چې د یو کتاب پاڼه یې ولړزوي؟

د نورې نړۍ نجونې چې خپل نوم د ساینس د کتابونو په* سر کې لیکي، زما نوم د کور د کارونو په لېست کې لیکل

ketabton.com - The Digital Library



کېږي: روټي پخه کړه، کالي ووينځه، چوپ شه؛ او زه حيرانه يم چې د "چوپ شه" او "ولوله" تر منځ څومره لوی *.جنګ پروت دی چې زما ټول عمر يې وخوړ

کله چې زه تلويزون کې يوه نجلۍ وينم چې د سرو زرو مډال په غاړه کوي او د خپل هيواد بيرغ پورته کوي، نو زما اوږې خپله ټيټيږي، ځکه زه پوهېږم چې زما د وطن بيرغ به زما په لاس هېڅکله پورته نشي، ځکه زما لاسونه *.د دې قلف د زنګ له امله شل شوي دي

هغوی چې د خپلې خوښې رشته ټاکي، زه دلته د خپلې خوښې د مرګ دعا کوم؛ ځکه ژوند چې د څلورو دېوالو تر منځ تېر شي، نو هغه ژوند نه دی، هغه په قسطونو مرګ دی، او زه هره ورځ د دې قلف د سيوري لاندې يو *.ځل مړه کېږم او بيا ژوندۍ کېږم

زه د تاريخ نه يوه پوښتنه لرم: کله چې به سبا زما لمسيان وپوښتي چې "بي بي، ته په هغه وخت کې چيرې وې چې نجونې له مکتبونو منعه وې؟" نو زه به يې په څه ځواب ورکړم؟ چې زه هغه وم چې قلف مې په خپلو سترګو ليدو، چيغه مې په خپل ستوني کې خپه کړه، او د خپل قلم د ماتېدو غږ مې په غوږو واورېد؟

---.

ketabton.com - The Digital Library



کله کله د خپلې کوچنۍ خور تنفس ته غوږ نیسم. هغه په خوب کې موسکېږي. شاید د مکتب خوب ویني. زما زړه غواړي چې را ویښه یې کړم او ورته ووایم: "خوبه دې هېر نه شي، ځکه چې له خوبه چې پاځېدې، تعبیر یې نشته".

زموږ وجود بې معنا شو انسان انسان نه پاتې کېږي، یوازې یو وجود پاتې کېږي چې ساه اخلي. پرون زه "څوک" وم: ښکلا، د نهم ټولګي شاګرده، چې د سبا د ساینس د امتحان لپاره یې تیاری نیوه. نن زه "هیڅوک" یم: یوازې د پلار لور، د ورور خور، د کور ښځه. زما نوم ورو ورو له ژبو غورځي او زما رول بې نوم کېږي.
زما لاسونه چې پرون به یې فورمولونه لیکل، نن یوازې د اوړو په خمیره کې ښکېل دي. زما سترګې چې پرون به یې د مایکروسکوپ لاندې د حجرو نړۍ لیدله، نن یوازې د کړکۍ له شیشې نه دوړې پاکوي. زما ژبه چې پرون به یې د شعر بیتونه ویل، نن یوازې "هو" او "سمه ده" وایي.
د افغانې ښځې نه یوازې راتلونکی اخیستل شوی، بلکې هڅه کېږي چې تېر یې هم ور نه هېر کړي. هغه کتابونه چې د پوهنتون په کتابتونونو کې د ښځو د لاسلیکونو نه ډک وو، نن په الماریو کې خاورې خوري. هغه

ketabton.com - The Digital Library



لابراتوارونه چې د نجونو د تجربو شاهدان وو، نن چوپه خوله پراته دي. خو حافظه بندي کېدای نشي.
هغه نجلۍ چې پرون به يې د کيميا فورمولونه حل کول، نن يې هم په ذهن کې ساتلي دي. هغه معلمه چې پرون به يې په تخته درس ليکلو، نن يې هم په زړه کې د خپلو شاګردانو نومونه ژوندي دي. دښمن کولی شي چې مکتب وتړي، خو د هغې د ذهن هغه برخه نشي تړلی چې د "مساواتو" کلمه پکې ليکل شوې ده. دا د حافظې جګړه ده، او په دې جګړه کې افغانې ښځې تر اوسه نه دي ماتې شوي.
کله چې يوه ښځه له کاره منع کېږي، نو يوازې هغه نه بې روزګاره کېږي. د هغې سره يو ځای يوه ټوله کورنۍ د لوږې کندې ته ور ټېل وهل کېږي. هغه ښځينه ډاکټره چې پرون به يې په روغتون کې سلګونه ناروغان کتل، نن په کور ناسته ده، او د هغې د معاش نه بې برخې شوې کورنۍ شپې په اوښکو سبا کوي. هغه ښځينه خاديه چې د خپلو اولادونو د ښوونځي خرڅ يې ګټلو، نن خپله د بل چا مرستې ته سترګې په لار ده. د ټولنې نيم وجود چې فلج شي، نو ټوله ټولنه به شل او ګوډه شي. دا يو ساده حقيقت دی چې د ټوپک زور يې هم نشي بدلولی. د افغانې ښځې

ketabton.com - The Digital Library



بې روزګاري يوازې د هغې شخصي غم نه دی، دا د يو
.ملت د ورو ورو مړ کېدو سند دی

:د هنر او احساس خپه کول، د روح وژل دي

افغانې ښځې تل هنرمندې وې. د دوی د لاس ګنډل شوي ګلمونه د نړۍ په موزيمونو کې پراته دي. د دوی د شونډو سندرې د غرونو په لمنو کې ازانګې کوي. د دوی شعرونه د مينې او درد هغه دفتر دی چې ساری نه لري. خو نن پر دې هنر هم بنديز دی. نه شاعره شعر ويلای شي، نه سندرغاړې سندره زمزمه کولی شي، او نه نقاشه د خپل زړه حال په ټوکر انځورولی شي. دا هڅه ده چې د افغانې ښځې روح ووژني. ځکه چې دښمن پوهېږي چې که د ښځې له زړه نه احساس واخلي، نو هغه به يوازې يوه جسد پاتې شي. خو دوی په دې نه پوهېږي چې احساس د اوبو په څېر دی، که يې يوه لار بنده کړې، نو هغه به بله لار وباسي. نن که شعر بنديز دی، نو د مور په للو کې به ژوندی وي. که نقاشي جرم دی، نو د لور د کاپۍ په څنډه .کې به وغوړېږي

د نړۍ چوپتيا، دوهم ظلم دی

د افغانې ښځې د زړه تر ټولو ژور زخم د نړۍ بې پروايي ده. کله چې په نورو هېوادونو کې د يوې ښځې سره لږ ظلم کېږي، نو ټوله نړۍ راپاڅي. خو دلته چې د ميليونونو ښځو

ketabton.com - The Digital Library



راتلونکی په یوه فرمان خاورې شو، نو نړۍ یوازې په "اندېښنه" بسنه وکړه. دا چوپتیا د افغانې ښځې په زړه کې دا پوښتنه پیدا کوي چې "ایا زموږ ژوند، زموږ خوبونه، زموږ اوښکې د نورو په څېر ارزښت نه لري؟". دا د زړه هغه درز دی چې ډکول یې ګران دي. خو د دې تر څنګ، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې داسې زړونه هم شته چې د افغانې ښځې لپاره دردیږي، د هغې لپاره اواز پورته کوي. او همدا لږه رڼا ده چې د دې تیارې شپې ته یې هیله پیدا کړې ده.

تاریخ هیڅکله په یوه ټکي نه دی درېدلی. د فرعون ظلم هم تلپاتې نه شو، د نمرود اور هم مړ شو. دا تیاره هم سهار لري. کېدای شي دا سهار سبا نه وي، کېدای شي بله ورځ هم نه وي، خو دا به خامخا راشي. ځکه چې د "حق" لاره که څه هم اوږده وي، خو منزل یې حتمي دی.

د افغانې ښځې ژوند نن د "انتظار" په ټغر اوبدل شوی دی، خو دا انتظار بې عمله نه دی. په هره هغه شېبه کې چې یوه مور خپلې لور ته الف او ب ورزده کوي، په هره هغه شېبه کې چې یوه خور د بلې خور اوښکې پاکوي، او په هره هغه شېبه کې چې یوه نجلۍ د بندې کړکۍ شاته د خپلو کتابونو پاڼې اړوي، انقلاب روان دی.

ketabton.com - The Digital Library



دا انقلاب د ټوپک نه دی، دا د پوهې، صبر او نه ماتېدونکې ارادې انقلاب دی. او د دې انقلاب بریا حتمي ده، ځکه چې د دې بیرغ د هغو لاسونو کې دی چې هېڅکله د قلم نیول نه هېروي.

:هیله

خو خو، د دې ټولو تیارو باوجود، د ښوونځي نه بغیر ژوند کې یو څه شته چې لا یې ځوک رانه نشي اخیستلای: هغه زما خیال دی.

کله چې کور ویده وي، زه خپل پټ کتاب راباسم. د ګرځنده د څراغ په رڼا کې یې لولم. هره کرښه چې لولم، زه یو قدم د دې کوټې نه بهر وځم. زه د فرانسې په کوڅو کې ګرځم، د اکسفورډ په کتابتون کې کتابونه ګورم، د شفاخانې په دهلیز کې په سپین چپن کې تګ کوم.

دوی زما مکتب وتاړه، خو زما دماغ نه شي تړلای. دوی زما قلم مات کړ، خو زما ګوتې لا د هوا په تخته لیک کوي. دوی زما خوله بنده کړه، خو زما اوښکې لا کیسې کوي.

د ښوونځي نه بغیر ژوند داسې دی لکه یو باغ چې اوبه پرې بندې شي. ګلان ورو ورو مړاوي کیږي، خو د هغوی ریښې لا په ځمکه کې دي. او ریښې ته که یو څاڅکی اوبه ورسیږي، بیا راټوکیږي.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې د انسان ټول خوبونه په یوه شپه کې خاورې شي، کله چې د بندې کړکۍ شیشې یې د اسمان او خپلو ارمانونو تر منځ دیوال شي، نو زړه داسې تنګ شي چې ساه پکې بنده شي. دا خواشیني عادي نه ده، دا د ظلم هغه زخم دی چې هره ورځ تازه کېږي.

حقیقت کې یوازې د ښوونځي د دروازې تړل نه دي. دا د یو انسان د راتلونکي، د هغه د هویت او د هغه د انساني کرامت سره تړلې جګړه ده. کله چې یوه نجلۍ ته وویل شي چې "ته نور زده کړه نشې کولی"، نو په حقیقت کې ورته ویل کېږي چې "ستا خوبونه مهم نه دي، ستا وجود نیمه دی، او ستا ځای یوازې د څلورو دیوالونو ترمنځ دی". د ارواپوهنې په ژبه دې ته *"تحمیلي ناهیلتیا"* وایي. یعنې کله چې یو انسان په پرله پسې ډول ووینې چې هېڅ هڅه یې نتیجه نه ورکوي، نو مغز یې په پای کې دا مني چې "له ما هېڅ نه کېږي". همدا هغه حالت دی چې انسان د بندې کړکۍ شاته د کتابونو په غېږ کې داسې ناست وي لکه ژوندی مړی.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې له تا نه د "محصلې"، "ډاکټرې"، یا "معلمې" هویت واخیستل شي، نو انسان له ځانه پوښتنه کوي چې "نو زه اوس څوک یم؟". دا پوښتنه ډېره دردوونکې وي.
انسان د امید په وسیله ژوندی وي. کله چې راتلونکی تور تم ته ښکاره شي، نو نن ورځ یې هم بې خونده شي. هر سهار داسې راخیژي لکه یو دروند بار چې دې په اوږو پروت وي.
ـد ګناه احساس کوو ځان ملامتوو. وایو "کاش ما نوره خواري کړې وای"، "کاش زموږ وخت کې داسې نه وای شوي". حال دا چې دا ګناه ستا نه ده. دا د هغه ظالم سیستم ګناه ده چې د ښځې له وجود نه وېرېږي.
ـ کله چې له تعلیمه او کاره منع شې، نو له ټولنې سره دې اړیکې شلیږي. ملګرې مو نه وینې، بحث نه شې کولی، خپل فکر نه شې شریکولی. دا یوازیتوب انسان له دننه خوري.
*نو د دې حالت نه د وتلو لار څه ده؟ دا د یوې ورځې کار نه دی، دا یو اوږد جهاد دی.*

لومړی باید پوه شو چې دا "شخصي ناکامي" نه ده، دا "ټولنیز ظلم" دی. کله چې ته دا ومنې چې مشکل په تا کې نه، بلکې په سیستم کې دی، نو د ځان په ملامتولو به لاس

ketabton.com - The Digital Library



واخلي. ستا خپګان، ستا غوسه، ستا اوښکې ټولې حق په جانب دي.

نېلسن منډېلا په ۲۷ کاله زندان کې و، خو هغه به هره ورځ ورزش کاوه، مطالعه به يې کوله. هغه ويل: "دوی زما جسم بندي کولی شي، خو زما ذهن نه". ته همداسې وکړه.

- هره ورځ يو نوی کلمه ياد کړه.
- د قرآن يو ايت ترجمه ولوله.
- خپلې مور ته يوه نوې کيسه وکړه.
- د شپې اسمان ته وګوره او ستوري وشمېره.

دا کوچني کارونه د هغه لوی ظلم په مخ کې ستا "نه" ويل دي.

که درسګاه بنده ده، نو کور دې درسګاه کړه. که ۳ خويندې سره کېنئ، نو دا پخپله يو پوهنتون دی. يو بل ته انګليسي ورزده کړئ، د خياطۍ زده کړه وکړئ، د ديني علومو بحث وکړئ. کله چې ښځې سره راټولې شي، نو له هغه ځايه انقلاب زېږي.

ketabton.com - The Digital Library



په دې حالت کې ځان جوړ ساتل، صحتمند خواړه خوړل، لږ قدم وهل، لمونځ کول، دا ټول د مقاومت بنې دي. دښمن غواړي چې ته مړه خوله شې. ته ژوندۍ پاتې کېدل غوره کړه. دا تر ټولو ستره مبارزه ده.

یوه مهمه خبره:

د افغانستان تاریخ لوستل دې ډېر درسره مرسته کولی شي. دا لومړی ځل نه دی چې پر افغانې ښځې سختې ورځې راغلې دي، او دا به خامخا اخري ځل هم نه وي. خو زموږ میندې تل له هرې تورې شپې نه روغې راوتلې دي. ملاله مېوند یوازې په یوه ټپه د یوه لښکر مخه بدله کړه. ته هم د خپلې وسې سره سم د خپل وخت ملاله یې.

موږ چې وایو "زه غواړم پوه شم" پخپله د رڼا لومړۍ ځرک دی. څوک چې پوښتنه کوي، هغه به یوه ورځ ځواب هم ومومي.

کله چې اسمان ټول وربځ وي او د لمر وړانګې هېڅ لاره نه پیدا کوي، نو ژوند کول پخپله یو هنر، او یو عبادت ګرځي.

په داسې وخت کې تر ټولو لویه مبارزه د "تسلیم نه کېدل" دي. دښمن غواړي چې ته مړه خوله شې، نا هیله شې، او

ketabton.com - The Digital Library



په خپل برخلیک ملنډې ووهې. ته د هغه دا ارمان مه پوره کوه.

*:د "بندې کړکۍ" نه "پراخ اسمان" جوړ کړه .

هو، کړکۍ بنده ده. خو د هغې شیشې له لارې هم اسمان لیدل کیږي.

هېڅوک ستا فکر نشي بندي کولی. هره ورځ د ۱۰ دقیقو لپاره سترګې پټې کړه او ځان په هغه ځای کې تصور کړه چې ډاکټره یې، معلمه یې، یا پیلوټه یې. دا خیال نه دی، دا د روح تمرین دی. دا ستا دماغ ته وایي چې "زموږ منزل همدا دی".

- ته دې د لویو کارونو واک نه لري، خو د کوچنیو کارونو واکوالې یې. نن دې د کوټې یو ګوټ سم کړ. سبا دې یو نوی دعا زده کړه. بله ورځ دې خپلې کوچنۍ خور ته یوه کیسه وکړه. دا کوچني "فتحې" دي چې ستا د وجود واک در په لاس درکوي.

که مدرسه بنده ده، نو ټوله نړۍ دې مدرسه کړه.

- د مور له لمنې نه پوهنتون جوړ کړه:* له خپلې مور،* انا او ترور نه د زړو کیسو، د بوټو د دوا، د پخوانیو دودونو او د قران د تفسیر پوښتنې وکړه. دا هغه علم دی چې په هېڅ کتاب کې نه دی لیکل شوی.

ketabton.com - The Digital Library



راډیو او کتاب دې ملګري کړه، تعلیمي پروګرامونو -
ته غوږ شه. که یو زوړ کتاب هم په کور کې وي، هغه دې
لس ځله ولوله. هر ځل به نوې خبره ترې زده کړې.
ګنډل، خامک دوزي، د خوړو پخول، لیکل. دا ټول هغه
مهارتونه دي چې سبا به درته د یوې ازادې ښځې په توګه
کار درکړي. د لاس کار، د زړه غم کموي.
د "غمونو" نه "پل" جوړ کړه، نه دېوال:
غم دې په زړه کې مه ایساروه، کنه زهر ترې جوړېږي.
ولیکه - :
یوه کوچنۍ کاپي واخله او هره شپه پکې یوازې درې
کرښې ولیکه: "نن مې څه احساس کړل؟ نن مې له څه
وېره وکړه؟ نن مې د څه هیله وکړه؟". یوه ورځ به دا کاپي
ستا د زړورتیا سند شي.
په داسې حالت کې ژوند کول د "شهادت" نه کم نه دي. ته
هره ورځ د خپل وجود، د خپل ایمان او د خپلو خوبونو
لپاره جنګېږې. دا عادي ژوند نه دی، دا مقدس مقاومت
دی.
ستا ساه اخیستل، بغاوت دی. ستا د کتاب پاڼه اړول، انقلاب
دی. او ستا نه تسلیمېدل، تر ټولو ستره بریا ده.

ketabton.com - The Digital Library



ځان ته دا مه وایه چې "زه باید قوي اوسم، ژړا دې نه کوم". نه. ژړا وکړه. چیغې ووهه. خپل درد په کاغذ ولیکه. تر څو چې دا غم د زړه نه بهر را ونه باسې، تر هغو به دننه زهر جوړوي. ستا اوښکې کمزوري نه ده، ستا د زړه د ژوروالي نښه ده.

کله چې راتلونکی ټول تیاره ښکاري، نو یوازې د نن په اړه فکر وکړه. نن یوازې یو ګیلاس اوبه وڅښه. نن یوازې د کړکۍ نه بهر یوې مرغۍ ته وګوره. نن یوازې پنځه دقیقې ژوره ساه واخله. لوی غرونه هم د وړو کاڼو نه جوړیږي. ته یوازې د نن ورځې مسؤوله یې، د ټول عمر نه.

د ظلم په دې زمانه کې، په ځان مهرباني کول بغاوت دی. ویښتان دې ولمانځه. لاسونه دې په اوبو پریمنځه. هغه زوړ کتاب دې یو ځل بیا خلاص کړه. دا کوچني کارونه ستا روح ته وایي چې "زه لا هم ژوندۍ یم، او زه د مینې وړ یم".
غړ پیدا کړه،
له یوه باوري انسان سره خبرې وکړه. مور، خور، یا هغه ملګرې چې پرې باور لرې. که هېڅوک نه وي، نو خپل

ketabton.com - The Digital Library



ځان ته په لوړ اواز ووایه: "دا ظلم دی، او زه یې مستحقه نه یم". کله چې درد ته نوم ورکړې، نو د هغه زور کم شي.

:ته یوازې نه یې ،

د دې بندې کړکۍ شاته یوازې ته نه یې ناسته. میلیونونه افغانې خویندې ستا په څېر د شپې تر ناوخته د کتابونو پاڼې اړوي، او په خپلو دعاګانو کې د یوې روښانه سبا سوال کوي. ستا صبر، د هغوی صبر دی. ستا اوښکې، د هغوی اوښکې دي.

:او تر ټولو مهمه خبره

که دې کله هم داسې احساس شي چې نور د زغملو نه یې، که دې زړه کې داسې فکرونه راشي چې ځان ته زیان ورسوې، نو دا د درد اواز دی، د حقیقت نه دی. په هغه وخت کې خامخا له یوه چا سره خبرې وکړه. ته قیمتي یې. .ستا ژوند، ستا وجود، ستا خوبونه ډېر ارزښت لري

ته چې نن ژوندۍ یې، دا بذات خود یو مقاومت دی. د هرې .ساه سره چې ته اخلې، ته د هغه ظلم په مخ کې "نه" وایې

. دا تیاره به خامخا تېرېږي

دوی فکر کوي چې زما "سبا" یې وژلې ده. نه! زما سبا زما په ګېډه کې ده. زه که ډاکټره نه شوم، زما لور به شي. .زه که پیلوټه نه شوم، زما د لور لور به شي

ketabton.com - The Digital Library



دوی زما مکتب وتاړه، خو زما دماغ نه شي تړلای. دوی
.زما خوله بنده کړه، خو زما قلم لا مات شوی نه دی
زه قسم خورم: تر څو چې يوه افغانه نجلۍ هم د لوستلو
لپاره ژاړي، زما د قلم رنګ به نه وچيږي. دا کتاب زما
.لومړی ډز دی. زما "سبا" به د دې کتاب له پاڼو نه راوځي
زه نن د اوړو په خميره کې لاسونه ښکېل کوم، خو زما په
ګوتو کې لا هم د قلم نيولو حافظه ده. زه به دا حافظه خپلې
لور ته په ميراث پرېږدم
.زه هم هغه ريښه يم. زه منتظره يم. زه ژوندۍ يم
اوس تاسو ووایاست، د يوې قلم د وژلو سزا څه ده؟
خو اخر ولې؟
دښځو سره دومره ظلم ولې؟
يوائې د اسلام په نوم؟
زما له طرفه چارواکو او مسولينو ته؟
مور، د دې خاورې لوڼې، د دې وطن ميندې او خويندې، د
درناوي په ژبه او د زړه له تله تاسو ته عارض يو. موږ
هېڅکله دا نه وايو چې زموږ د علم او پوهې لار دې د بې
حيايۍ او د اسلامي اصولو نه د سرغړونې په بيه خلاصه
شي. نه، والله! موږ هم د هغو ميندو اولاد يو چې د اسلام په
لمن کې لويې شوې يو، او زموږ لومړی او وروستی ارمان
همدا دی چې زموږ زده کړې دې په بشپړه توګه د قران او

ketabton.com - The Digital Library



سنت په رڼا کې، د افغانیت او د اسلامي حجاب په چوکاټ
.کې وي
خو پوښتنه دا ده چې ایا د اسلامي طریقې د پلي کولو لپاره یوائینۍ لاره د ښوونځي د دروازې تړل دي؟ ایا د دې ګلانو د روزلو لپاره چې سبا به د دې وطن ډاکترانې، معلمانې او میندې وي، بله هېڅ حل لاره نشته؟
زموږ اسلام، د علم دین دی. زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وایي: "د علم طلب په هر مسلمان نارینه او ښځینه فرض دی". نو څنګه کېدای شي چې د "اسلامي طریقې" د نشتوالي په بهانه، د "اسلامي فرض" د ادا کولو مخه ونیول شي؟ دا خو داسې ده لکه څوک چې ووایي: "تر څو چې په جومات کې قالینې بشپړې نه شي، نو لمونځ دې بند شي".
محترمو مشرانو! موږ له تاسو نه د غرب د بربنډ کلتور غوښتنه نه کوو. موږ یوازې دا غواړو چې تاسو د دې ملت د مشرانو په توګه، د اسلامي اصولو په رڼا کې، د نجونو د تعلیم لپاره یوه لاره پیدا کړئ. که د جلا ټولګیو ضرورت وي، موږ تیار یو. که د ښځینه استادانو شرط وي، زموږ میندې او خویندې شته چې دا سپېڅلې دنده ترسره کړي. که د اسلامي لباس پابندي وي، زموږ ټکری لا له وړاندې زموږ د سر تاج دی.

ketabton.com - The Digital Library



موږ درنه هیله کوو چې د "اسلامي طریقې" د پلي کولو لپاره دې د "علم دروازه" بنده نه شي، بلکې د علم دې دروازې ته دې "اسلامي لار" جوړه شي. د ګلانو روزل ګناه نه ده، ګلونه بې اوبو پرېښودل ګناه ده. د دې وطن راتلونکی د نالوستو میندو په لاس نه جوړېږي.

تاسو د خدای په خاطر، د دې وطن په خاطر، او د خپلو لوڼو د راتلونکي په خاطر، د علم دا بندې دروازې خلاصې کړئ. تاریخ به ستاسو دا پرېکړه په زرینو کرښو ولیکي، او د افغانې مور دعا به د قیامت تر ورځې ستاسو ملګرې وي.

محترمو مشرانو!

موږ د دې خاورې هغه لوڼې یو چې د خپلو پلرونو او نیکونو په څېر پر دې وطن مینې یو، او د اسلام په سپېڅلي دین کلک ایمان لرو. موږ د چا د کلتور غلامۍ نه غواړو، او نه مو دا هدف دی چې د پردیو په لار لاړې شو. زموږ یوازینۍ غوښتنه دا ده چې د خپل دین، خپل کلتور او خپل حجاب په چوکاټ کې د قلم او کتاب حق راکړل شي.

تاسو چې نن د دې وطن د برخلیک واکدار یاست، د خدای لپاره په دې وپوهېږئ چې د یو ملت د وژلو لپاره توپ او ټانک نه، بلکې د هغه د ښځو د نالوستي ساتلو فیصله کافي ده. کله چې یوه مور نالوستې وي، نو ټول کور نالوستی

ketabton.com - The Digital Library



پاتې کېږي، او کله چې کورونه نالوستي شي، نو وطن به د
.تیارو په غېږ کې ویده شي
موږ وایو چې  د اسلامي اصولو د ساتلو لپاره سل تدبیرونه
ونیسي، زر شرطونه دې کښېږدي، خو د علم د چېښې خولې
دې نه تړي. که د بې حجابۍ وېره وي، نو د حجاب لپاره
قانون جوړ کړئ، موږ به یې په سر سترګو ومنو. که د
ګډو درسونو اندېښنه وي، نو د نجونو لپاره بېل ښوونځي او
بېل پوهنتونونه جوړ کړئ، زموږ میندې به خپلې غاړکۍ
.خرڅې کړي او د هغو دېوالونو ته به خښتې ورکړي
دا مه وایاست چې "شرایط برابر نه دي"، ځکه شرایط
انسانان برابروي. زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه
زمانه کې د ښځو د تعلیم لپاره لارې خلاصې کړې چې
خلکو خپلې لوڼې ژوندۍ ښخولې. نن چې موږ د الوتکو او
کمپیوټر په زمانه کې ژوند کوو، ایا زموږ لپاره د یوې
اسلامي مدرسې جوړول ګران کار دی؟
محترمو! د دې وطن دښمنان غواړي چې افغانې ښځې
نالوستې پاتې شي، تر څو سبا ته د دوی اولادونه هم د
غلامۍ په زنځیرونو کې اوسېږي. تاسو د دښمن دا ارمان
مه پوره کوئ. د علم دروازه بنده ساتل، د دښمن په سنګر
.کې ودرېدل دي، که څه هم نیت مو د اسلام خدمت وي

ketabton.com - The Digital Library



موږ له تاسو نه د ازادۍ هغه تعریف نه غواړو چې غرب یې کوي، موږ د ازادۍ هغه تعریف غواړو چې اسلام یې کوي: د فکر ازادي، د علم ازادي، او د حلال رزق د ګټلو ازادي. یوې ښځینه ډاکټرې ته اړتیا یوازې ښځو نه لري، ټولې ټولنې ورته اړتیا لري. که سبا ستاسو په کور کې یوې مور یا خور ته تکلیف پیښ شي، ایا تاسو به دا خوښه کړئ چې د نامحرمو نارینه ډاکټرانو لاس ته یې ورکړئ؟

نو راځئ چې د دې مسئلې ته د "بندولو" له عینکو نه، بلکې د "جوړولو" له عینکو نه وګورو. راځئ چې د ام المومنین حضرت عایشې رضی الله عنها په څېر عالمانې ښځې وروزو چې نیم دین یې له هغې نه را نقل شوی دی. راځئ چې د رابعه بلخۍ په څېر شاعرانې، د زرغونې په څېر معلمانې او د ملالې مېوند په څېر میړنۍ لونې ولرو.

په اخر کې مو یوازې دومره وینا ده: د ګلانو نه د اوبو حق مه اخلئ، د اوبو لار ورته سمه کړئ. د اسلامي نظام د بقا لپاره، د نالوستو خلکو نه، د باعلمه او باایمانه نسلونو ضرورت دی. او دا نسلونه یوازې د لوستې مور په غېږ کې روزل کیږي.

د خدای، د رسول، او د دې شهیدانو د وینو په خاطر، د پوهې دا بندې دروازې خلاصې کړئ. زموږ راتلونکی

ketabton.com - The Digital Library



نسل به تاسو ته د دعا لاسونه پورته کوي، او تاريخ به ستاسو په نوم د "علم د دروازو خلاصونکي" لقب وليکي

ستاسو يوه افغان خور
پاي

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب په اړه

### عمومي پیغام:

**دا کتاب د هغه افغاني نجونو د هیلو،**

ارمانونو او چپو دردونو کیسه ده چې د زده کړو له حقه بې برخې شوي دي. دلته د یري تولنیز درد، د یري نجلي خاموشه فریاد او د روښانه سبا لپاره نه مړیدونکي هیلې انځور شوي دي.

د زده کړې مبارزه

د راتلونکي هیله

د زړه کیسه

16BH 578-0-53-35-903-0
9 788637 634927

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*